د مَدَني مركزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 29 مئي، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 11 ذُو الحِج شريف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام اوصاف

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام تعارف
- د کور والؤ د نهٔ پوهه کولو نقصانونه
- د فلمونو نه د نفرت کولو باوجود عذاب (واقعه)
- ټوله کورنۍ پهٔ سمه لار شوه (واقعه)

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم:

کَثْرَۃُ الذِّکْرِ وَالصَّلَاۃُ عَلَیَّ تَنْفِی الْفَقْرَ۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د الله پاک ډیر ډیر ذِکر کول او په ما باندې دُرُودِ پاک لوستل غریبي لرې کوي-[1]

تم ہو جَوَّاد و کریم، تم ہو رَؤوف و رَحیم | بھیک ہو داتا عطا، تم پہ کروڑوں درود
خَلق کے حاکِم ہو تم ، رِزق کے قاسِم ہو تم | تم سے مِلا جو مِلا، تم پہ کروڑوں درود[2]

وضاحت: ◈ یَا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! تاسو ډیر زیات سخي هم یئ، کرم کوونکے هم یئ، مهربانه هم یئ، د دواړو جهانو رحمت هم یئ، اے داتا! ما ته هم خیر راعطا کړئ!

---

[1]… القول البدیع، الباب الثانی فی ثواب الصلاۃ علی رسول الله صَلَّی اللّٰہُ علیه وَآله وَسَلَّم، صفحه:135۔

[2]… حدائقِ بخشش، صفحه:269۔

پهٔ تاسو باندې دې پهٔ کروړونو درودونه وي ◈ يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو د مخلوق حاڪِم هم يئ، رزق تقسيموونڪے هم يئ، څهٔ چې هم ميلاؤ شوي دي، هم ستاسو نه ميلاؤ شوي دي، پهٔ تاسو باندې دې پهٔ کروړونو درودونه وي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ ۡ اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ وَكَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾
وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَالزَّكٰوةِ ۪ وَكَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾

(پاره: 16، سورهٔ مريم: 5554)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او پهٔ کتاب کښې اِسماعيل ياد کړه بے شکه هغه د وعدې رښتونے وو او د غيبو خبرونه ورکوونڪے رسول وو- او هغهٔ به خپل کور والؤ ته د نمانځه او د زکوٰة حُڪم ورکولو او هغه د خپل رَبّ پهٔ نزد ډير خوښ بنده وو-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د ذُو الحِجَّةُ الحَرام مقدسه او مبارکه مياشت رَوَانه ده، الله پاک دې پهٔ دې مبارکه مياشت کښې زمونږه عبادتونه، رياضتونه، قُرباني پهٔ خپل فضل او کرم سره قبولې کړي- الله پاک دې پهٔ مونږ ټولو باندې خپل خاص فضل او کرم اوکړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مولیٰ مجھ کو نیک بنا دے | اپنی اُلفت دِل میں بَسا دے
اپنی رِضا کا دیدے مژدہ | یاالله! میری جھولی بھر دے[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ◈ حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک خوږ نبي دے ◈ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د هغوئي په اولاد کښې دے ◈ ډيره د اوچتې مرتبې هستې ده ◈ د الله پاک د خليل حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام شهزاده دے ◈ هغوئي د ډېره شان والا دي، د چا په ياد کښې چې مونږه قُربانی کوو ◈ هم د هغوئي د ښپو په برکت د آبِ زَم زَم چينه جاري شوه ◈ هغوئي د خپل والِدِ محترم حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام سره په شريکه خانه کعبه جوړه کړله ◈ الله پاک هغوئي د قبيله جُرهم او قومِ عَمَالِقَه طرف ته نبي رالیږلے وو[2] ◈ هم هغوئي د ټولو نه وړومبے په فصيحه عربی ژبه کښې خبرې کړې وې -[3] الله پاک هغوئي ته 12 ځامن ورعطا کړل، بيا د ډېره 12 ځامنو نه نسل راچليدو او د عربو دا ټوله سيمه اباده شوه- رَبِّ رحمان او رحيم په قرآنِ مجيد کښې په ډيرو ځايونو کښې د هغوئي ذِکرِ خير فرمائيلے دے-

---

1... وسائلِ بخشش، صفحه: 123121 ملتقطًا-

2... الروض الانف، ذکر اسماعيل عليه السلام وبنيه، جلد: 1، صفحه: 42 خلاصةً-

3... فتح الباری، کتاب احاديث الانبيا، باب يزفون النسلان فى المشى، جلد: 6، صفحه: 488، تحت الحديث: 3364-

## د آيت مبارک خُلاصه

مونږ د 16 سيپارې، د سورۀ مريم د 2 آيتونو (آيت: 54 او 55) د اوريدو سعادت حاصل کړو، پۀ دې آيتونو مبارکو کښې د هغوئي يو څو صفتونه او فضيلتونه بيان شوي دي، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاذْكُرْ فِي الْكِتٰبِ اِسْمٰعِيْلَ (پاره: 16، سورۀ مريم: 54) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او پۀ کتاب کښې اِسماعيل ياد کړه- |

سُبْحٰنَ الله! دا دے د قرآنِ کريم تعليم--!! بعضې وخت خلق وائي: تاسو صرف د نبيانو، وليانو قيصې بيانوئ- د داسې خلقو د پاره عرض دے: ◈ د نبيانو، وليانو ذِکر کول ◈ د هغوئي سيرت، د هغوئي اخلاق او کردار لوستل ◈ بيانول، هم د قرآنِ پاک تعليم دے، تاسو هم سُورۀ مريم ولولئ او وګورئ! چرته الله پاک فرمائي: پۀ کتاب کښې اِدريس عَلَيْهِ السَّلَام ياد کړئ! چرته فرمائي: پۀ کتاب کښې اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ياد کړئ! چرته الله پاک فرمائي: پۀ کتاب کښې مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا ياده کړئ!

مريم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا څوک ده؟ د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام مور بي بي ده، کامله وَلِيَّه ده- معلومه شوه چې د نبيانو، وليانو ذِکر کول هم عبات دے، مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي چې ټول قرآنِ پاک سراسر د الله پاک ذِکر دے او قرآن ولولئ او وګورئ! ◈ پۀ دې کښې د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام ذِکر هم راځي ◈ د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ذِکر هم راځي ◈ د صحابۀ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضْوَان ذِکرِ خير هم دے ◈ د اهلِ بيتِ اَطهار عَلَيهِمُ الرِّضْوَان شانونه هم پۀ دې کښې بيان شوي دي، د دې نه معلومه شوه چې ◈ د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلَام ذِکر

کول هم ذِکرُ الله دے ◈ د الله پاک د خوږو دوستانو يعني د اوليائے کرامو رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہِم ذِکر هم ذِکرُ الله دے او ◈ د صحابۀ کرامو او اهلِ بيتو عَلَيهِمُ الرِّضوَان ذِکر هم پۀ ذِکرُ الله کښې شامل دے۔ [1] الله پاک دې مونږ ته د دې ذِکر د ښه ډير کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خُدا کا ذِکر کرے، ذِکرِ مصطفٰے نہ کرے
ہمارے مُنہ میں ہو ایسی زباں خُدا نہ کرے

خير! الله پاک فرمائي: پۀ کتاب کښې اِسماعيل ياد کړئ! د دې نه وړاندې اِرشاد دے:

اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ
(پاره: 16، سورۂ مريم: 54)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بے شکه هغه د وعدې رښتونے وو۔

دا د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ښکلے صفت دے چې هغوئي د وعدې رښتونے وو، يقيناً چې ټول انبيائے کرام عَلَيهِمُ السَّلَام د وعدو رښتوني دي خو حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پۀ وعده پوره کولو کښې يو ځانله مقام لري، ځکه د هغوئي يو خاص صفت ذِکر کړے شو او رَبِّ رحمان وفرمائيل:

اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ
(پاره: 16، سورۂ مريم: 54)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بے شکه هغه د وعدې رښتونے وو۔

---

[1]... مرآة المناجيح، جلد: 3، صفحه: 304 مفصلاً۔

نور اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ كَانَ رَسُوْلًا نَّبِيًّا ﴿۵۴﴾ (پاره: 16، سورهٔ مريم: 54) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او د غيبو خبرونه وركوونكے رسول وو- |

دا د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د شان او د عظمت بيان دے، رَبِّ كريم هغوئي قبيله جُرهم او قومِ عَمَالِقه طرف ته نبي راليږلے وو، هغوئي به هغهٔ د حق لارې طرف ته رابللو، د نيكئ دعوت به يې وركولو، ډيرو خلقو د هغوئي دعوت قبول كړو او كلمه يې ولوستله او د جَنَّت حقداران جوړ شول-

الله پاک نور فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ كَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَ الزَّكٰوةِ ۪ (پاره: 16، سورهٔ مريم: 55) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او هغه به خپل كور والؤ ته د نمانځه او د زكوٰة حُكم وركولو- |

دا هم د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ښكلے صفت دے، حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام به خپل قوم ته خو د نيكئ دعوت وركولو خو د دې سره سره به يې خپل كور والؤ ته هم د نمونځ او د زكوٰة حكم كولو-

| | |
|---|---|
| وَ كَانَ عِنْدَ رَبِّهٖ مَرْضِيًّا ﴿۵۵﴾ (پاره: 16، سورهٔ مريم: 55) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او هغه د خپل رَبّ پهٔ نزد ډير خوښ بنده وو- |

دا هم د هغوئي اوچت شان دے چې هغوئي د خپل رَبِّ رحمان پهٔ نزد اوچت مقام لري،

هغوئي د الله پاک ډير خوښ بنده دے۔

الله پاک دې زمونږ په حال باندې هم رحم اوکړي، مونږ خو د هيڅ لائق نۀ يو، رَبِّ رحمان او رحيم دې د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په وسيله، د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په وسيله، د خپل خوږ محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله مونږ ته خپله رضا راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| بنا دے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ | گُناہوں سے ہر دَم بچا یاالٰہی! |
| مِرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عَطا یاالٰہی![1] |

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آيت مبارک نه ميلاؤيدونکي سبقونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې آيتونو مبارکو کښې د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام 2 ښکلي صفتونه بيان شول:

### (1): د وعدو رښتونے

وړومبے صفت اِرشاد شو:

| | |
|---|---|
| اِنَّهٗ كَانَ صَادِقَ الْوَعْدِ (پاره:16، سورۀ مريم:54) | [مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: بے شکه هغه د وعدې رښتونے وو۔ |

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:105۔

دا د هغوئي ډير ځانګړے صفت دے، هغوئي د وعدو رښتوني وو، پۀ **کتابونو کښې ليکلے شوي دي**: حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام چې به د چا سره څۀ وعده اوکړه نو (که د هغې پۀ پوره کولو کښې به هر څومره هم سخته ولې نۀ وه، هغوئي به چې وعده اوکړه نو) هغه به يــې ضرور پوره کوله۔ (1)

## د څو ورځو پورې يــې اِنتظار کولو

حضرت سفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو ځل حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام او د هغوئي دوست د يو کلي پۀ خوا تيريدل، د هغوئي دوست يو عرض اوکړو چې عالي جاه! يا خو تاسو دې کلي ته تشريف يوسئ او څۀ راوړئ! يا تاسو تشريف کيږدئ! زۀ ځم، ستاسو د ضرورت څيزونه به هم زۀ راوړم۔ وه يــې فرمائيل: زۀ دلته کښينم، تاسو يې راوړئ! بيا هٔغه ګس کلي ته لاړو، سودا وغيره يــې اوکړه، بيا هغۀ ته ياد هم نۀ وو چې حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام زما اِنتظار کوي، نو هغه پۀ بله لاره باندې لاړو۔ د دې واقعې ډيرې ورځې تيرې شوې۔ يو ځل هٔغه ګس ناڅاپه پۀ هٔغه ځائے تيريدلو نو وه يــې کتل چې حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام اوس هم هلته تشريف فرما دے۔ هغۀ پۀ حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: تاسو د اوسه پورې دلته يــئ؟ وه يــې فرمائيل: ستا د اِنتظار وعده مې کړې وه، د څو پورې چې تۀ نۀ وې راغلے نو زۀ څنګه تلے شوم---!!

دغه شان يو ځل هغوئي د چا سره وعده اوکړه چې زۀ به پۀ فلانکي ځائے کښې ستا سره ميلاؤيږم۔ نو پۀ ټاکلے شوي وخت باندې هغوئي هٔغه ځائے ته ورسيدل۔ د هٔغه ګس

---

[1]… تفسير قرطبی، پارہ:16، سورۀ مريم، زير آيت:54، جز:7، جلد:6، صفحه:29۔

نه هير شو- پۀ انتظار کولو کولو ماښام شو، بيا د ماښام نه پس شپه او بيا بله ورځ راغله، بيا د ټولې شپې د تيريدو نه پس پۀ بله ورځ هغه کَس ته ورياد شو، کله چې هغوئي هلته ورسيدل نو وه يــې کتل چې حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام هم پۀ هغه ځائے کښې اِنتظار فرمائي- پۀ حيرانتيا سره يــې عرض اوکړو: تاسو لا د اوسه پورې دلته يئ؟ (افسوس!) زما نه هير شوي وو-

اوس دلته نبوي اخلاق وګورئ چې هغوئي غصه هم اونکړه، هغه کَس يــې وه هم نۀ رټلو، ستغې سپورې يــې ورته هم وه نۀ وئيلې بلکې پۀ نرمۍ سره يــې وفرمائيل: د څو پورې چې تۀ نۀ وې راغلے، زۀ به هم دلته اِيسار ووم- [(1)]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا دے د الله پاک نبي حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ---!! د هغوئي پۀ ياد کښې مونږ قُربانۍ کوو، هر کال پۀ زرګونو څاروي د رَبّ پۀ نوم باندې ذبح کوو- ډيره ښه خبره ده، قُرباني کول دي، ضرور کول دي، پۀ چا باندې چې واجب ده، هغوئي له خو ضرور کول دي، ګنې نو ګنهګاريږي به خو د دې سره سره چې د چا پۀ ياد کښې قُربانۍ کوو، د هغوئي اخلاق هم اِختيارول دي- حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د وعدو رښتونے وو، کله چې به يــې وعده کوله نو هغه به يــې پوره کوله- افسوس چې دلته حالات اوس اُلټا شوي دي- وعده پوره کول زمونږ پۀ دِين کښې شامل دي خو خلق وعدې کوي او پوره کوي يــې نۀ ◈ وعده اوکړو چې پۀ فلانکي وخت به ميلاؤيږو

---

1... تفسير درمنثور، پارہ:16، سورۀ مريم، زير آيت:54، جلد:5، صفحه:516 مفصلاً۔

خو ميلاؤيږو نۀ ◈ د چا قرض چې واپس كول دي، د هغۀ سره مو وعده اوكړه چې ماښام به يې واپس دركړم، پۀ فلانكي وخت به يې دركړم خو وركوو يې نۀ- فرض كړئ كه چرې اِنتظام وه نۀ شو نو نور مهلت هم نۀ غواړو بلكې مخ ورته هم نۀ ښائيو بلكې اوس خو معامله نوره هم بدله شوې ده، د چا قرض چې وركول دي، اوس خلق هم هغه ته بدماشي كوي- الله كريم دې زمونږ پۀ حال باندې رحم اوكړي- وعده كول او بيا د هغې د ماتولو نور هم ډير مثالونه دي، اوس د لوئي اختر پۀ موقع باندې وګورئ چې قصابان وعدې كوي خو پۀ وخت باندې نۀ راځي، چا ته چې قُرباني كول وي، هغوئي يې انتظار كوي- دا ډيره بده خبره ده-

## وعده خِلافي حرامه ده

اعلیٰ حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: خُلۡفُ الۡوَعۡدِ حَرَامٌ يعنې د دروغو وعده كول حرام دي-[1] پۀ حديثِ پاک كښې دي: (1): كوم مسلمان چې لوظ ماتوي او وعده خلافي كوي پۀ هغه باندې د الله او د فرښتو او د ټولو اِنسانانو لعنت دے او د هغۀ به نۀ څۀ فرض قبليږي او نۀ څۀ نفل-[2] (2): پۀ يو بل حديث شريف كښې فرمائي: خلق به د هُغه وخته پورې نۀ هلاكيږي د څو پورې چې هغوئي د خپلو خلقو سره وعده نۀ ماتوي-[3]

---

1... فتاویٰ رضويه، جلد:25، صفحه:69۔

2... بخاری، كتاب الجزيه والموادعة، باب اثم من عاہد ثم غدر، صفحه:815، حديث:3179۔

3... ابو داؤد، كتاب الملاحم، باب قيام الساعة، صفحه:682، حديث:4348۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! معلومه شوه چې وعده خِلافي د هلاکت په وجو کېږي يوه وجه ده- الله پاک دې مونږ د دې ګناه نه محفوظ کړي-

## وعده خِلافي څۀ ته وئيلے شي؟

وعده خِلافي څۀ ته وئيلے شي؟ دا هم يوه اهمه پوښتنه ده، دلته خلقو ته معلومه هم نۀ وي- زما د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے: وعده خِلافي دا نۀ ده چې اِنسان وعده اوکړي او د هغه نيت د هغې د پوره کولو هم وي بلکې وعده خلافي دا ده چې انسان وعده اوکړي او د هغۀ نيت د هغې د پوره کولو نۀ وي- (1) په يو بَل حديثِ پاک کښې دي چې کله يو ګس د خپل ورور سره وعده اوکړي او د هغۀ نيت د هغې د پوره کولو وي بيا يې پوره نۀ کړے شي، په وعده رانشي نو په هغۀ باندې ګناه نشته- (2)

يعنې د وعده خِلافۍ تعلق د نيت سره دے، مثلاً د چا سره وعده اوکړے شوه چې په فلانکي وخت به ميلاؤيږم- په زړۀ کښې نيت هم شته چې ميلاؤيږم به- بيا په څۀ وجه ميلاؤ نۀ شو نو دا وعده خِلافي نۀ ده بلکې بعضې وخت چې خلق د ځان خلاصولو د پاره وائي: آو په فلانکي وخت به ميلاؤيږو خو په زړۀ کښې يې نيت د نۀ ميلاؤيدو وي نو دا وعده خِلافي ده-

---

1... جامع لاخلاق الراوی، تعيين المجلس المحدث للطلبة يوم المجلس...الخ، جلد:2، صفحه:60، حديث:1179۔

2... ابو داؤد، کتاب الادب، باب فی العدة، صفحه:781، حديث:4995۔

## د وعدې د پابندۍ بے مثاله نمونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دلته خو خلق پۀ معمولي معمولي خبرو باندې د دروغو وعدې کوي، د الله پاک د نبي حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام سيرت مبارک ته وګورئ! ډيره مشهوره واقعه ده، د هغوئي والِدِ محترم حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائيل: ځويه! ما ته خوب وښودلے شو چې تا (د رَبّ د رضا د پاره) ذبح کووم- هغوئي وعده اوکړه او وه يـې وئيل:

يٰۤاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ٘ سَتَجِدُنِیْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِیْنَ ﴿۱۰۲﴾

(پارہ:23، سورۃ الصفت:102)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: اے زما پلاره! تاسو هُم هغه اوکړئ د څۀ چې تاسو ته حکم درکولے کيږي- اِن شَآءَ الله نزدې ده چې تاسو به ما د صبر کوونکو نه مومئ-

وګورئ چې دا څومره سخته خبره وه خو حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پۀ وعده کلک ولاړ وو، هغوئي هم پخپله حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته عرض اوکړو: بابا جانه! زما لاسونه وتړئ! چاړه تيرۀ کړئ! پۀ خپلو سترګو باندې پټۍ وتړئ! د پاره د دې چې څۀ جذبه، د پلار مينه، هيڅ هم پۀ دې وعده پوره کولو کښې خنډ [يعني رکاوټ] جوړ نشي- اخر هغوئي خپله مرۍ پيش کړه، حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ هغې باندې چاړه هم کيښودله، عين هم پۀ هٰغه وخت الله پاک پۀ فديه کښې جنتي ګډ راوليږلو-

سُبْحٰنَ الله! دا ده د وعدې پابندي---!!

یہ فیضانِ نظر تھا یا مکتب کی کرامت تھی
سِکھائے کس نے اِسماعیل کو آدابِ فرزندی[1]

**وضاحت:** د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ حکم باندې د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام فوراً لبيک وئيل او سر ټيټول، آيا دا د چا د نظر فيضان دے او که دا د يوې مدرسې تعليم او تربيت دے؟ دا د والدِ محترم د تابعدارئ اعلیٰ صفتونه چا وښودل؟ يقيناً چې دا د الله پاک عبادت وو، هغوئي نبي دے، رَبِّ کريم هغوئي د پاکو اخلاقو والا جوړ کړې وو۔

الله پاک دې مونږ ته هم د وعدو پابندي راعطا کړي۔ اٰمِيۡن بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (2): کور والؤ ته د نيکئ دعوت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام دويم صفت بيان شو:

| | |
|---|---|
| وَكَانَ يَاْمُرُ اَهْلَهٗ بِالصَّلٰوةِ وَ الزَّكٰوةِ ۪ (پاره: 16، سورهٔ مريم: 55) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغهٔ به خپل کور والؤ ته د نـمانځهٔ او د زکوٰة حُکم ورکولو۔ |

سُبْحٰنَ الله! دا هم ډير ښکلے صفت دے، د الله پاک نبي حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پخپله خو وو هم ډير د اوچتې مرتبې والا، هغوئي خو به خپل قوم ته هم د نيکئ دعوت ورکولو خو د دې ټولو سره سره به يې خپل کور والؤ ته هم د نيکئ حکم کولو۔

[1]... کلياتِ اقبال، بابِ جبريل، صفحه:353۔

# د کور والؤ د نۀ پوهه کولو نقصانونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا ډېره اهمه ذمه واري ده، مونږ ته د خپل کور والؤ د اِصلاح طرف ته هم پام کول پکار دي، افسوس چې ◈ نن سبا معاشره د زوال طرف ته روانه ده ◈ پۀ معاشره کښې ځوانان بے لارې کيږي ◈ لوفري زياتيږي ◈ بے حيائي ورځ پۀ ورځ زياتيږي ◈ نن سبا هلکانو پۀ کوڅو او پۀ سړکونو کښې درز غوبل شروع کړے وي ◈ د مشرانو اِحترام کميږي ◈ د جوماتونو پۀ رغبت کښې پرله پسې کمے پۀ نظر راځي ◈ د عِلمِ دِين نه لرې والے پيدا کيږي ◈ مسلمانانو خپل مقصد هير کړے دے او بس وخوره، وڅښه او صحت جوړ کړه باندې عمل کوي ◈ د اِسلام د بنيادي عقيدو نه هم خبر نۀ دي ◈ د يو مسلمان د پاره چې کومې ضروري او بنيادي مسئلې دي، هغه ورته معلومې نۀ دي ◈ د پاکۍ او ناپاکۍ پۀ باره کښې د معلوماتو نه ډېر کم ځوانان خبر دي ◈ اِيمانونه خرڅيږي او قِسما قِسم خرابۍ پۀ معاشره کښې سرونه راپورته کوي، تاسو ترې هم خبر يئ، لږ غور اوکړئ چې د دې ټولو د مخنيوي اصلي مرکز څۀ دے؟ زمونږ کور-کهٔ ◈ هره مور ◈ هر پلار ◈ هر نيکه ◈ هر کشر تره ◈ هر مشر تره ◈ هر خاؤند ✿ هر مشر ورور پۀ خپل خپل کور کښې د خپلو بچو، د خپلو وريرونو، د خپلو نمسو، د خپل کور والؤ او د خوئيندو وروڼو اِصلاح کول شروع کړي نو تاسو ووايئ چې پۀ معاشره کښې به بے حيائي، فحاشي وغيره د چرته نه راځي- اصلي مسئله هم د دې ځائے نه شروع کيږي ◈ وړومبے خو د کور مشران پخپله هم ديندار نۀ دي ◈ پخپله نـمونځونه نۀ کوي ◈ بچو له هم ترغيب نۀ ورکوي ◈ پخپله ورله د قرآنِ کريم لوستل صحيح نۀ ورځي ◈ بچو ته يـې هم نۀ ښائي، پخپله ورسره دِيني معلومات نۀ وي ◈ کلونه تير شول، ودونه يـې

کړي دي، د اوسه پورې د پاکۍ او د ناپاکۍ د مسئلې نه هم خبر نۀ دي، کور والؤ ته يې هم نۀ ښائي ◈ بچپله ورسره د عقيدو عِلم نشته، بچو ته يې هم نۀ ښائي-

بيا ډير خلق ځغه دي ◈ کوم چې بچپله ديندار ه دي ◈ بچپله نمونځونه هم کوي ◈ روژې هم نيسي ◈ نيک کارونه هم کوي ◈ دِيني معلومات هم لري خو خپل کور والا دې طرف ته نۀ راولي، اوس چې مونږ دلته څومره پۀ جومات کښې حاضر يو، هر يو دې د ځان پۀ باره کښې غور اوکړي، څومره خلق دي د کومو پۀ کورونو کښې چې نور خلق هم شته ، ځامن دي، ورونړه دي، وريرونه دي، مونږ خو جومات ته راغلو، زمونږ ورور، ورارۀ، ځوي نمونځ اوکړو او که نۀ، دې ته پام نۀ کوو، يقين اوکړئ چې زمونږ پۀ پاکستان کښې چې دا وخت څومره پاخه نمونځ ګزاره دي، کوم چې پينځه واړه نمونځونه پۀ جومات کښې کوي، کوم چې باقاعده پۀ پابندۍ سره نمونځونه کوي، صرف هم ځغه پاخه نمونځ ګزره که د خپل کور ټول نارينه جومات ته راوستل شروع کړي نو زمونږ پۀ جوماتونو کښې به نمونځ ګزاره څو چنده زيات شي-

وګورئ چې پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې جوماتونه ډک شي، نمونځ کوونکي ښه ډير شي، دا خلق څوک وي؟ هم زمونږ نه وي، د چا ورور، د چا ځوي، د چا ورارۀ، د چا پلار، د چا ترۀ جومات ته راتلل شروع کړي او جوماتونه ډک شي، که هر ګس د خپل خپل کور هم دا خلق د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه پس هم جومات ته راوستل شروع کړي نو پۀ جوماتونو کښې به ګڼه څو چنده زياته شي خو افسوس چې مونږ خپل کور والؤ ته د نيکۍ دعوت نۀ ورکوو بلکې اوس خو معامله د دې نه هم وړاندې تلې ده، بعضې وخت د کور

یو ګس نیک اِنسان جوړیدل غواړي خو کور والا هغهٔ له پیغورونه ورکوي، ستغې سپورې ورته وائي او د نیکۍ پهٔ لار کښې خنډ [یعني رکاوټ] جوړیږي- ځومره داسې خلق دي کوم چې د یو مبلغ پهٔ بیان اوریدو، د چا د نیکۍ د دعوت پهٔ ورکولو، کله د **دعوتِ اِسلامي** دِیني اِجتماع ته پهٔ راتللو د نیکۍ ذِهن جوړ کړي، د ږیرې د پریښودو، د عمامې پهٔ سر کولو، د فیشن نه د نجات حاصلولو او د سُنَّتو نه د ډک ژوند تیرولو ذِهن جوړوي خو د هغوئي کور والا د هغوئي د نیکې د لارې نه پهٔ لرې کولو لاس پورې کړي- **اَلامَان وَالحَفِیظ!**

## کور والا پوهه کوئ!

الله پاک دې زمونږ پهٔ حال باندې رحم اوکړي- **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** ځان او د خپل کور والا د نیکې لارې مسافر جوړول، هغوئي له د نیکۍ دعوت ورکول او د دوزخ نه د بچ کولو ذریعه جوړول زمونږ د ټولو ذمه واري ده- الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا (پاره:28، سورۂ التحریم:6) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هٔغه وور نه بچ کړئ- |

د دې آیت نه معلومه شوه چې چرته پهٔ مسلمان باندې د ځان اِصلاح کول ضروري ده نو هلته د کور والؤ اِسلامي تعلیم او تربیت کول هم پهٔ هغهٔ باندې لازمي دي، ځکه هر مسلمان له پکار دي چې هغه خپله ښځه او بچي او پهٔ کور کښې چې ځومره خلق دي کوم چې د هغهٔ لاندې دي هغوئي ټولو له د اِسلامي حکمونو تعلیم پخپله ورکړي یا یې پهٔ

بل چا ورکړي داسې د اِسلامي تعليماتو په سوري کښې د هغوئي تربيت اوکړي د پاره د دې چې دوئي هم د دوزخ د وور نه محفوظ شي-

## د کور والؤ په باره کښې به پوښتنه کيږي

د حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے، تاجداررسالت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: په تاسو کښې هر کَس نګهبان (څارونکے) دے او د هر يو نه به د هغهٔ د لاندينو خلقو په باره کښې پوښتنه کولے شي، نو حاکِم څارونکے دے، د هغهٔ نه به د هغهٔ د عوامو په باره کښې پوښتنه کولے شي- سړے د خپل کور والؤ څارونکے دے، د دهٔ نه به د خپل کور والؤ په باره کښې پوښتنه کولے شي- (1)

## د فلمونو نه د نفرت کولو باوجود عذاب

مفتي امين صاحِب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه (د فيصل آباد والا)، هغوئي يوه د سبق نه ډکه او عبرتناکه واقعه ليکلې ده، فرمائي: په عربو شريف کښې دوه دوستان وو، يو په رياض کښې اوسيدو او بَل په جده کښې- د رياض والا دوست وفات شو، څهٔ موده پس د جدې والا دوست هغه په خوب کښې وليدو، هغه په عذاب کښې راګير وو، د وجهې په پوښتنه هغه ووئيل: زما د فلمونو او ډرامو نه نفرت وو خو بچو ضد اوکړو، ځکه ما په کور کښې د ګناهونو نه د ډک پروګرام لګولو اِنتظام اوکړو- آه! د کله نه چې قبر ته رارسيدلے يم، د هغه وخت نه د کور والؤ په وجه په عذاب کښې راګير يم، وروره! مهرباني اوکړه! په ما زړهٔ وسيزه ! زما کور

---

[1]... بخاری، کتاب الجمعة، باب الجمعة فی القری والمدن، صفحه:274، حدیث:893۔

والا پوهه کړئ چې هغوئي د ګناهونو نه ډک چينل نۀ ګوري-

د جدې والا دوست يـې رياض ته لاړو، د وفات شوي دوست کور والؤ ته يـې خوب بيان کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغوئي پوهه شول او هغوئي د ګناهونو نه د ډک پروګرام د لګولو او کتلو نه توبه کړه- پۀ بله شپه چې د جدې والا دوست اودۀ شو نو خپل وفات شوے دوست يـې پۀ خوب کښې پۀ ښه حالت کښې وليدو، هغه مُسکے وو او وئيل يـې: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما نه عذاب لرې شوے دے- [(1)]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور اوکړئ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واضحه فرمان دے چې د هر ګس نه به د هغۀ د کور والؤ پۀ باره کښې پوښتنه کولے شي، د دې سره دا عبرتنانه واقعه هم ده، د هوښيار د پاره پۀ دې کښې ډير سبق دے- مونږ له پکار دي چې مونږ د چا پۀ ياد کښې قُرباني کوو، هم د هُغه اِسماعيل عَلَیْہِ السَّلَام ---!! اخلاق هم اِختيار کړو، خپل کور والؤ، بال بچ ته د نيکۍ دعوت هم ورکوو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيک کارونو کولو ترغيب ورکوو-

## پۀ کور کښې دَرس ورکوئ!

اللّٰه پاک دې پۀ دعوتِ اِسلامي باندې پۀ کروړونو رحمتونه نازل کړي، دې دِيني تنظيم ته دې ډيره ترقي ورعطا کړي، د فتنو پۀ دې اوسني وخت کښې دعوتِ اِسلامي زمونږ د پاره ډيرې اسانۍ پيدا کړې دي- پۀ کور کښې د دِيني ماحول د جوړولو، د کور والؤ د نيکۍ پۀ

---

[1]… عذابِ الٰهی کے محرکات، صفحه:1715 خلاصةً-

لاره د روانولو د پاره یوه بهترینه طریقه دعوتِ اِسلامي مونږ ته ښودلې ده او هغه ده: **کور دَرس**- پهٔ خپل کور کښې زیات نهٔ صرف د 7 منټه درس روزانه د ورکولو معمول جوړ کړئ! دا څهٔ ګران کار نهٔ دے، د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا اِلیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه لیکلے شوي ډیر اسان کتابونه: مثلاً ◈ **فیضانِ سُنَّت** ◈ **نیکی کی دعوت** ◈ **غیبت کی تباہ کاریاں** ◈ **فیضانِ نماز** او ◈ ډیرې ورې رسالې پهٔ مکتبة المدینه کښې میلاوېږي، دا کتابونه او رسالې حاصلې کړئ! یا یې د دعوتِ اِسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه ډاؤن لوډ کړئ! څهٔ وخت مقرر کړئ! روزانه هُغه وخت ټول کور والا راجمع کړئ او د دې کتابونو او رسالو نه یو څو صفحې لولئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د دې برکت به پخپله ووینئ-

## ټوله کورنۍ پهٔ سمه لار شوه

د مَهَارَاشټر (*Maharashtra*) هندوستان واقعه ده، یو اِسلامي ورور وائي چې زمونږ پهٔ کور کښې د ګناهونو نه ډک ماحول وو، د خرابو خلقو سره د تعلقاتو پهٔ وجه عقیدې هم خرابې وې- بیا داسې وشول چې زما د 17 کلن کشر ورور د دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره تړون پیدا شو، هغه د ګناهونو نه بچ کیدل شروع کړل، زما د هغه دا حرکت خوښ نهٔ شو، نو ما د هغهٔ سره خبرې بندې کړې- کشر ورور هیڅ جوابي کاروائي اونکړه، هغه به روزانه ټول کور والا راجمع کول او د **فیضانِ سُنَّت درس** به یې ورکولو، یوه ورځ زهٔ هم پهٔ دَرس کښې کیناستم، پهٔ ما د هغهٔ خبرې ډیرې ښې ولګیدلې، بیا به ما روزانه پهٔ دَرس کښې شرکت کولو، پهٔ ورو ورو زما د زړهٔ تور والے لرې کیدلو، ما **د دعوتِ اِسلامي هفته وارِ د سُنَّتو ډکې اِجتماع** ته حاضري هم شروع کړه، اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما عقل پهٔ ځائے شو،

ما د بد مذهبو د صحبت نه نجات حاصل کړو، مخ مې په ږيره باندې ښائسته کړو او په نيکو کښې مصروفه شوم، زمونږ د کور په څلور واړو کمرو کښې به د ګناهونو نه ډکې چينلې لګيدلې، اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا سلسله اوس ختمه شوه-

بُری صحبتوں سے کَنارہ کَشی کر | کے اچھوں کے پاس آ کے پا مَدَنی ماحول
تمہیں لُطف آ جائے گا زِندگی کا | قریب آ کے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول[1]

## په کور کښې د دِيني ماحول جوړولو د پاره----

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو هم همت اوکړئ! په کور کښې دَرس ورکوئ! بيا د دې سره سره مَدَني چينل هم لګوئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! په کور کښې به دِيني ماحول جوړ شي- د دې نه علاوه ◈ کور ته د تللو راتللو په وخت په تيز اواز د سلام کولو عادت جوړ کړئ! ◈ د مور او پلار عزت کوئ! ◈ د هغوئي د عزت د پاره ودريږئ! ◈ د مور او پلار لاسونه او ښپې ښکلوئ! ◈ هر يو په تاسو وئيلو سره رابلئ! ◈ په کور کښې د سختۍ کولو نه ځان ساتئ ◈ د ټول کور والؤ سره نرمه لِـهجه اِختيار کړئ! ◈ چې ټول کور والا نيک نـمونځ ګزاره جوړ شي، دې د پاره دعاګاني کوئ! ◈ په عملي توګه وخت په وخت په نرمۍ سره هغوئي له د نيکۍ دعوت هم ورکوئ! اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! په کور کښې به دِيني ماحول جوړ شي-

میرے گھر والے سب پابندِ سُنّت | بنیں ایسا کرم ہو جانِ رحمت

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:646 ملتقطًا-

## د بيان خُلاصه

د بيان خُلاصه دا ده چې د الله پاک نبي حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د کوم پهٔ ياد کښې چې مونږ قُربانۍ کوو، هغوئي د الله پاک نبي دے، ډير د اوچتې مرتبې والا دے، د هغوئي پهٔ ډيرو اعلیٰ صفتونو کښې دوه دا دي: (1): هغوئي د وعدې رښتوني او پابند وو (2): خپل کور والؤ ته به يې د نـمونځ او د زکوٰة حـکم کولو- مونږ له هم پکار دي چې لکه څنګه چې د هغوئي پهٔ ياد کښې قُربانۍ کوو، داسې د هغوئي اخلاق هم اِختيار کړو- د وعدې پابندي هم کوو او خپل کور والؤ، بچو ته، د وړو مور ته، ورونو خوئيندو وغيره ته د نـمونځ، روژې وغيره نيکو کارونو ترغيب هم ورکوو- الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**د بيان پهٔ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:**

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د فرضو پوره کيدو نه بغير نفل نهٔ قبليږي-

**وضاحت:** داسې ليدلے شوي دي چې پهٔ خلقو کښې د نفل نـمونځونو رغبت زيات وي، دا ښه خبره ده، البته د تهجدو، اِشراق او څاښت د نـمونځونو کولو سره سره قضا نـمونځونه هم ادا کوئ- الله پاک دې مونږ ټولو ته د نيکۍ رغبت راعطا کړي- البته! يوه مسئله پهٔ ذِهن کښې ياده ساتئ! هغه دا چې **د فرضو د پوره کولو نه بغير نفل نهٔ قبليږي-** [1]

---

[1] ...کتاب الزهد لابن مبارک، باب ذکر رحمة الله تبارک...الخ، صفحه:273، حديث:914-

◈ د چا پهٔ ذِمه چې قضا نـمونځونه وي، هغه دې زر تر زره نـمونځونه پوره کړي ◈ د چا پهٔ ذمه چې قضا روژې وي، هغه دې روژې پوره کړي ◈ د چا پهٔ ذمه چې د تیرو کلونو زکوٰة پاتې وي، هغه دې د نفلي صدقې کولو پهٔ ځائے زکوٰة ورکړي- اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د دې ثواب به ډیر میلاؤیږي-

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَا غَنِیُّ (بے نیازه)

د چا چې د ملا پهٔ تیر، پهٔ کونډو، د جوړونو یا د وجود پهٔ کومه حصه کښې چرته هم درد وي نو هغه دې پهٔ ګرځیدو راګرځیدو او پهٔ ناسته پهٔ ولاړه، د الله پاک دا خوږ نوم یَا غَنِیُّ لولي اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! سکون به یې نصیب کیږي- (1)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي.

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]... مَدَنی پنج سوره، صفحه:258۔